طلوع افغان

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

د امتیاز څښتن: کندهار اطلاعاتو او فرهنګ ریاست

په اوونۍ کې دوه واره چاپېږي

د تأسیس کال: ۱۳۰۰ لمریز، شنبه ۱۷/محرم الحرام/۱۴۴۵ هـ ق، ۱۴/زمري/۱۴۰۲ ل کال - ګڼه (۳۱)

Saturday-5-August-2023 Issue 31

نبوي مرغلري

رسول الله (ص) فرمايلي دي:

ژباړه: الله (ج) فرمايلي: خپلو نېکو بندګانو له پاره مي داسي څه تيار کړي، چي نه سترګو ليدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه کوم زړه کي ګرځېدلي.

«رواه البخاري»

د قطر د دولت وزيري: د قطر الخيرية مؤسسي افغانانو ته په بېلابېلو برخو کي د مرستو په رسولو کي فعاليت پيل کړی دئ

د نړۍوالو همکاريو له پاره د قطر د دولت وزيري لولوة الخاطر د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو وزارت له سرپرست مولوي امير خان متقي سره په کتنه کي ويلي، هيواد يې له افغانستان سره اړيکو ته د قدر په سترګه ګوري او په بېلابېلو برخو کي مرسته ورسره کوي.

مولوي امير خان متقي په دې کتنه کي د قطر له کوربه توب څخه د منني تر څنګ ويلي، ياد هيواد تل له افغانستان سره د دوستانه اړيکو پراختيا ته لومړيتوب ورکړی دئ.

د بهرنيو چارو وزارت سرپرست هغې ته د افغانستان د تازه وضعيت په تړاو مفصل معلومات وړاندي کړل او هغوی يې وهڅول، چي په افغانستان کي د سوري زړه په ناروغۍ د اخته کوچنيانو درملنه، د کرهني په برخه کي د اصلاح سوو تخمونو، ډيپلوماتانو او لوبغاړو ته د روزنيزو زده کړو او د لوبو له پاره د لوبغالو په جوړولو کي مرسته وکړي.

په ورته وخت کي د نړۍوالو همکاريو له پاره د قطر د دولت له وزيري لولوة الخاطر په دې کتنه کي ويلي، له افغانستان سره اړيکو ته د قدر په سترګه ګوري او افغانستان ته د قطر د رئيس الوزرا سفر د دې اړيکو د پراختيا ښه ثبوت دئ او زياته يې کړه، له نېکه مرغه د قطر الخيرية مؤسسي افغانانو ته په بېلابېلو برخو کي د مرستو په رسولو کي فعاليت پيل کړی او له افغانستان سره په يادو سکتورونو کي لکه: روغتيا ۴مخ

په کابل نړۍوال هوايي ډګر کي دوې پروژې پرانيستل سوې او د دوو نورو پروژو کار پيل سو

په کابل نړۍوال هوايي ډګر کي د ۱۴۰۲ ل کال د زمري مياشتي پر يوولسمه نېټه د شاوخوا ۲۲۸ زره ډالرو په ارزښت، دوې پروژې پرانيستل سوې او د دوو نورو پروژو چاري پيل سوې.

د کابل نړۍوال هوايي ډګر رئيس مولوي عبدالهادي محمد باختر آژانس ته ويلي، په دې پروژو کي د خيبر څلور لاره چي د ۷۰ زره ډالرو په لګښت د «سوپر کولا» شرکت له خوا جوړه سوې ده او دغه راز د کابل هوايي ډګر عمومي دروازه چي د نژدې ۳۰ زره ډالرو په لګښت د «هريرود» ساختماني شرکت په مالي مرسته جوړه سوې ده، نن پرانيستل سوه.

د هغه په وينا، د ۷۰ زره ډالرو په لګښت د کابل نړۍوال هوايي ډګر په خارجي ترمينل کي د برقي زينو د جوړولو چاري هم پيل سوي چي د «کام اير» هوايي شرکت له خوا جوړېږي.

همدا رنګه د حضرت مصطفی (ص) په ۴مخ

د احمدشاه بابا د کور تخنيکي او مسلکي سروې تر سره کېږي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د لوی امپراتور احمدشاه بابا د کور تخنيکي او مسلکي سروې تر سره کوي.

د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رياست د هنر او فرهنګ آمر عبدالشکور څپاند د باختر خبري آژانس سره په خبرو کي ويلي، د وزارت څخه مسلکي پلاوی راغلی، تر څو د لوی احمدشاه بابا د لرغوني کور لومړنۍ سروې تر سره کړي.

د يادوني وړ ده، چي تر سروې وروسته د رغنيزو چارو لګښت ټاکل کېږي او وروسته به يې د ترميم کارونه پيل سي.

په کندهار کي د ۱۴۰۲ ل کال کانکور ازموينه پيل سوه

د پنجشنبې په ورځ په کندهار کي د کانکور آزموينه پيل سوه، چي دوې ورځي يې دوام درلودی.

په همدې مناسبت په کندهار پوهنتون کي په جوړ سوو مراسمو کي د هيواد د امتحاناتو د ملي اداري رئيس شيخ عبدالباقي حقاني، د پوهني رئيس مولوي فخرالدين نقشبندي، د کندهار پوهنتون علمي مرستيال پوهنيار عبدالخالق چوپان، مالي او اداري مرستيال مولوي عبدالستار حقاني او نورو مسؤلينو، د پوهنتون استادانو او ځوانانو ګډون کړی وو.

د امتحانونو د ملي اداري رئيس د کانکور آزموينې له ګډونوالو وغوښتل، چي زده کړي او فعاليتونه د نظام، اسلام، ۴مخ

د انساني قاچاق او نشه يي توکو د استعمال پر مخنيوي اړوند سيمينار پای ته ورسېدی

د کندهار په اطلاعات او فرهنګ رياست کي د انساني قاچاق او نشه يي توکو د استعمال پر مخنيوي سيمينار جوړ سو.

ياد سيمينار د YHDO مؤسسې او ځوانانو چارو آمريت په کډه همږغۍ، د دوشنبې په ورځ پيل سو، چي څلور ورځي يې دوام درلودی.

د ياد سيمينار د پرانيستني په مراسمو کي د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رئيس مولوي انعام الله سمنګاني ځوانانو ته د دوی پر مسئوليتونو هراړخيزه وينا وکړه او له هغوی يې وغوښتل چي نورو هيوادونه ته د تلو څخه ډډه وکړي او د خپل هيواد د آبادۍ او ودي له پاره خپله انرژي مصرف کړي.

د سولري څراغونو په نصبولو سره د ښار ښکلا څو چنده ډېره کړې ده

کندهار ښاروالۍ د سردار مدد خان څلور لاري څخه تر شهيدانو چوک پوري د سولري څراغونو په نصبولو سره د ښار ښکلا څو چنده ډېره کړې ده.

د ښاروالۍ وياند سيف الله عاصم باختر خبري آژانس ته د سه شنبې په ورځ ويلي، اوس يې د حبيبي واټ په شمول، په شاه بازار او ښکارپور بازار کي دې ته ورته سولري ۴مخ

اطلاعات او فرهنګ رياست ته ۱۰۰ تخفيفي سکالرشيفونه ورکړل سول

لمر د لوړو زده کړو مؤسسې کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست ته ۱۰۰ تخفيفي سکالرشيفونه ورکړل.

د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رياست د ځوانانو چارو آمر حافظ حمدالله سعيد باختر خبري آژانس ته ويلي، ياد تفاهم ليک په څو علمي برخو کي د لمر لوړو زده کړو مؤسسې سره لاسليک سو.

د سعيد په وينا، لمر د لوړو زده کړو مؤسسه د اطلاعات او فرهنګ رياست له لوري ور معرفي سوو ۵۰ تنو ځوانانو ته په عامه اداره او پاليسي پوهنځي کي په ۶۰ سلنه او ۵۰ تنو ته په حقوقو او ۴مخ

د کندهار مجلې د ۱۴۰۲ ل کال دوهمه ګڼه چاپ سوه

کندهار مجلې د ۱۴۰۲ ل کال د "غبرګولي – چنګاښ" دوهمه ګڼه چاپ سوه.

په دې ګڼه کي د کندهار او سيمي د علماء کرامو، اکاډميکو استادانو، ليکوالانو ۴مخ

د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رياست اړوند، د

۱۲ کېلو متره سړک او دوه چک ډيمونه جوړ سول

په کندهار کي د ۱۲ کېلو متره په اوږدوالي د يو سړک جوړېدو تر څنګ، دوه چک ډيمونه جوړ او ګټي اخيستني ته وسپارل سول.

د کلو، د بيارغوني او پراختيا، د کرهني او بو لګولو او مالدارۍ او همدا رنګه د اقتصاد رياستونو تر رهبرۍ لاندي د خوړو نړۍوال سازمان "WFP" په مالي همکارۍ او د "KRO" مؤسسې په تخنيکي همکارۍ ځان بسياينې ته د ورګرځېدو پروژې تر عنوان لاندي د کندهار ولايت په نېش ولسوالۍ کي د دره نور سړک چي ۱۲ کېلو متره اوږدوالی او اووه متره عرض لري، د پنځو ميليونو، ۲۶ زره ۴مخ

هيواد ته د افغان حاجيانو د راتګ بهير پای ته ورسېدی

د کندهار ولايت تر څنګ، هيواد ته د افغان حاجيانو د راتګ بهير بشپړ سو.

ټاکل سوې ده، چي د چهار شنبې په ورځ د افغان حاجيانو وروستۍ ډله د سعودي عربستان پر وخت، د شپې نهه بجې، د مديني – منورې له هوايي ډګر څخه لومړی د کندهار احمدشاه بابا هوايي ډګر او بيا د کابل نړۍوال هوايي ډګر ته پرواز وکړي.

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ۴مخ

هر رسنيز سوی خبر قاطع او حقيقي نه وي

بريالی "فيضي"

هره ورځ په رسنيو کي مختلف خبرونه اورو، وينو او لولو، ځيني خبرونه پر مختيايي وي، ځيني د روانو شخړو او معضلاتو اړوند، ځيني ناببره واقعاتو او ترافيکي پېښو اړوند او ځيني نور بيا د سياسي پېښو او جنجالونو په اړه ليکل کېږي.

د خبرونو له پاره سرچيني پر دوه ډوله دي، يو يې رسمي سرچينې او بل يې غير رسمي سرچينې دي.

هغه خبرونه چي سرچينې يې رسمي او باوري وي، تر ډېره حده د اعتماد وړ وي او باور پر کېدلای سي، خو هغه خبرونه چي سرچينې يې غير رسمي او نا باوره وي، دغسي خبرونه تر ډېره حده د واقعيتونو خلاف وي.

دا چاره په رسنيو پوري هم تړلې ده، ځيني رسنۍ کوښښ کوي، چي د شهرت تر لاسه کولو، لوستونکو، اورېدونکو او ليدونکو د زياتولو په هدف د خبر سرعت ته د دقت په پرتله لومړيتوب ورکړي، اما ځيني رسنۍ بيا په دې برخه کي حساسي وي، يعني يو خبر تر هغو نه خپروي، تر څو د دقت په اړه يې پوره اطمينان حاصل کړی نه وي.

موږ ته په کار ده، چي د هري رسنۍ څخه چي خبر اورو، بايد دې ته پام وکړو، چي خبريال دغه معلومات د چا څخه اخيستي دي، يعني سرچينه يې څوک يا کوم ارګان دئ. که يې چيري سرچينه نا معلومه وي، نو بيا دا خبر پوره يقيني نه دئ او بايد باور پر و نه سي، بلکي په اړه يې لا ښه معلومات وسي، تر څو ځان پوره باوري او مطمئن کړي.

يوه بله مهمه خبره دا ده، چي ځيني هيوادونه د نړۍوالو رسنيو څخه د خپلو سياسي هدفونو له پاره هم استفاده کوي، د رسنيو په مټ داسي پروپاګند کوي، چي زړه يې غواړي.

د مثال په ډول، د تېرو دوو کلونو راهيسي غربي رسنۍ په پوره وس د دې هڅه کوي، چي په افغانستان کي وضعيت ترينګلی معرفي کړي، هره ورځ د افغانستان په اړه منفي راپورونه خپروي او افغانانو ته بې ځايه اندېښني ور پيدا کوي. جالبه خبره لا دا ده، چي په افغانستان کي د روانو چارو په اړه به له هغو افغانانو سره خبري کوي، کوم چي د افغانستان څخه د باندي اوسېږي.

مثلاً دوی وايي، په افغانستان کي د تېر حکومت نظامي کار کوونکي خوندي نه دي، په داسي حال کي چي د تېر حکومت اکثريت نظاميان لا هم پر خپلو وظيفو مقرر دي، دوی پر دې مسئله چي په افغانستان کي لوږه زياتېدونکې ده، هره ورځ ګردي مېزونه جوړوي، اما پر دې بيا بحث نه کوي، چي امريکا او متحدينو يې ولي د افغانستان شتمني کنګل کړې ده.

افغانان بايد د رسنيو په پاليسيو پوه وي، د رسنيو پر خبرونو بې له تحقيق څخه باور و نه کړي او د نړۍوالو د پروپاګند څخه متأثر نه سي.



د طلوع افغان خبري

نړۍوال خپله اقرار کوي، چې افغانستان کې اقتصادي وضعیت سم سوی

نړۍوال بانک په خپل میاشتني اقتصادي راپور کې ویلي دي، چې افغانستان روان کال په اقتصادي برخه کې د پام وړ پرمختګونه کړي او همداراز په دې راپور کې ویل سوي، چې په تېرو دوو میاشتو کې کلنی تورم (انفلاسیون) منفي و او په افغانستان کې وضعیت ښه سوی دئ.

د افغانستان اسلامي امارت د یاد راپور هرکلی کړی او ویلي يې دي، چې که نړۍواله ټولنه مثبت تعامل ته مخه، بندیزونه لیري او د افغانستان کنګل سوې شتمني آزاده کړي، نو افغانستان به د نورو برخو ترڅنګ، په اقتصادي برخه کې هم په بشپړ ډول پرمختګ وکړي.

دا دوه کاله د افغانستان ولس شاهد دئ، چې په افغانستان کې د اقتصاد د ځان بسیایني له ډېرو فرصتونو ګټه اخیستل سوې ده، د اسلامي امارت مسئولینو په دې برخه کې هڅې کړي، خو بیا به هم نړۍوالو بنسټونو په افغانستان کې د لوږي د ډېرېدو او نورو خطرونو په اړه راپورونه وړاندي کول، خو نن دادی، خپله د همدوی له آدرسه د اسلامي امارت د اقتصادي پرمختګونو په اړه مثبت خبر اوریدل کېږي.

افغانستان د امنیت څخه برخمن سوی دئ او چیري چې امنیت وي، هلته اقتصادي پرمختګ حتمًا راځي، پرمختیایي پروژې پیلېږي او پانګه وال په ښه زړه سره پانګه اچونه کولای سي.

د دې سره په څنګ کې د امریکا د متحده ایالتونو حکومتي چارواکي په خپله وایي، چې د افغانستان له خاوري امریکا او متحدینو ته يې کوم خطر متوجه نه دئ. دا خبري د افغانستان له پاره د امریکا ځانګړي استازي ټام ویسټ د یوې نړۍوالي رسنۍ سره د مرکې پر مهال کړي دي.

هغه همدار نګه زیاته کړې ده، چې په افغانستان کې پر عامو خلکو بریدونه کم سوي، اسلامي امارت په افغانستان کې د داعش ډله کابو کړې او د دوی مهم مشران او بریدګر يې له منځه وړي دي او په خبره يې دا هر څه د امریکا له مرستي پرته سوي دي.

په تېرو کلونو کې د اسلامي امارت منظمه حکومتولي او د بهرني سیاست ښه پالیسي د دې لامل سوه، چې نن ورځ هماغه هیوادونه چې د اسلامي امارت له حاکمیت څخه په بېره کې ول، خپله د اسلامي امارت ښه بیان کړي.

اداره

د اسلامي شریعت په رڼا کي د حسد د مخنیوي لاري - چاري

لومړی څارن محمد جاوید "حبیبي"
دوهمه او وروستی برخه

د الله (ج) پر قضا رضا: حاسد باید د الله (ج) پر قضا او قدر راضي وي، که راضي نه سو، آخر به يې پښېمانتیا وي او الله (ج) پر قضا – رضا د نفسي ناروغیو لوی درمل او علاج دئ، چې په دې مرضونو کي یو هم حسد دئ.

الله (ج) د سورة الزخرف په ۳۲ نمبر آیت کي فرمایلي دي:

ژباړه: آیا ستا د رب د رحمت وېش دوی کوي!؟ د دوی د دنیوي ژوندانه تیرولو وسایل، خو موږ د دوی په منځ کي وېشلي او د دوی ځینو ته پر نورو باندي په درجو سره پورته والی موږ ور کړی دئ، ترڅو چي دوی یو او بل استخدام کړي او ستا د رب رحمت تر هغي شتمنۍ زیات قیمتي دئ، چي د دوی مشران يې راغونډوي.

حسد دنیوي او اخروي ضرر ګڼل:

حسد انسان ته په دنیا او آخرت کي ضرر رسوي او محسود ځني خلاص دئ، ځکه دا ډېره بده ګناه ده او همدار نګه دا د محسود دیني ګټه ده، ځکه محسود مظلوم دئ، په ځانګړي ډول کله چي ور سره غیبت او ښکنځل هم مل سي، دا ټولي هغه ډالۍ دي چي د حاسد له پلوه محسود ته لیږل کیږي.

له ابوهریرة (رض) څخه روایت دئ، چي پیغمبر (ص) فرمایل:

ژباړه: آیا تاسو پوهیږئ چي مفلس څوک دئ!؟ ټولو اصحابانو مبارکانو وویل: په موږ کي هغه څوک مفلس دئ، چي پیسې او دنیوي متاع و نه لري. بیا پیغمبر (ص) وفرمایل:

زما د امت مفلسان هغه خلک دي چي د قیامت په ورځ به له لمانځه، روژې او زکات سره راځي، یوه ته به يې ښکنځل کړي وي، پر یوه به يې تهمت لګولی وي، د یوه مال به يې خوړلی وي، د یوه وینه به يې توی کړې وي، یو به يې وهلی وي، د ده له نیکیو څخه به هر یوه ته ورکړل سي، که يې نیکۍ تر ټولو حسابونو مخکي ختمي سي او پای ته ورسیږي، بیا به د هغو کسانو ګناهونه را واخیستل سي او پر ده به واچول سي، وروسته به د دوږخ اور ته داخل کړل سي. "مسلم"

د بل د مال په خوښېدو سره هغه ته مبارکي ویل:

کله چي یو مسلمان پر خپل نفس یا مال یا د بل مسلمان ورور مال ووینې او خوښ يې سي، باید د برکت دعا ورته وکړي، په دې اړه پیغمبر (ص) داسي فرمایلي دي:

ژباړه: کله چي ستاسو کوم یو پر خپل نفس، مال یا له ورور څخه يې څه ښه وګڼل او خوښ يې سول، د برکت دعا دي ورته وکړي.

د مبارکۍ طریقه: مبارکي به دا ډول ورته وایې: "تبارک الله احسن الخالقین*"

ژباړه: ډېر زیات برکتناک دئ، الله تر ټولو پیدا کوونکو ښه پیدا کوونکی دئ.

یا (اللهم بارک فیه)

ژباړه: اې الله ته په کښې برکت واچوې او یا ووایي: باسم الله ماشاء الله. لا قوة الابا لله.

د الله په نامه پیل کوم، څه چي د الله تعالی خوښه وي او په (نېکو کړنو) پرته له الله تعالی څخه قوت ورکوونکی نسته.

کله چي یو تن له بدو سترګو او حسد څخه وېرېږي، باید خپل نفس د دوی له شر څخه د معوذتینو (سورة الفلق او سورة الناس)، سورة فاتحه او ځینو دعاګانو، آیت کرسي او (لاحول و لاقوة الا با الله العلی العظیم) په لوستلو سره ځان خلاص کړي.

(لاشین ۱۴۲۳ه ق)

په دنیوي چارو کي تر ځان کښته مرتبې لرونکو اشخاصو ته نظر کول، له ځان څخه کښته مرتبو والا اشخاصو ته په کتو سره انسان ته د الله (ج) هغه نعمتونه معلومیږي چي ده ته يې ورکړي دي، په دې اړه پیغمبر (ص) فرمایلي دي:

ژباړه: که هغه تن ته یو څوک وګوري چي هغه ته الله (ج) په مال او صورت کي غوره والی ورکړی دئ، دی دي هغه کس ته وګوري چي له ده څخه په مرتبه کي کښته دئ

د سلام خپرول: د سلام خپرول د انسان په فردي ژوند کي ډېر تاثیر لري او د افرادو ترمنځ، مینه او محبت پیدا کوي، الله (ج) د سورة النساء په ۸۶ نمبر آیت کي فرمایي:

ژباړه: او څوک چي په درناوي سره تاسو ته سلام واچوي، نو هغه ته تر هغه په ښه توګه جواب ورکړي یا لږ تر لږه په هماغه شان، الله (ج) د هر شي حساب اخیستونکی دئ.

پیغمبر (ص) فرمایلي دي:

ژباړه: آیا تاسو ته د داسي یو څه لارښوونه و نه کړم، چي په تر سره کولو کي يې یو له بل سره مینه او محبت کوي، سلام په خپلو منځونو کي عام کړي.

اخځلیکونه:

۱– قرآنکریم (سورة الفلق آیت ۱–۵، سورة ال عمران آیت ۱۲۰، سورة الحج آیت ۶۰، سورة ال عمران ۱۲۰، سورة الطلاق آیت ۳، سورة الشوری آیت ۳۰، سورة ال عمران آیت ۱۶۵، سورة ال عمران آیة ۱۳۴، سورة فصلت آیت ۳۴–۳۶، سورة یونس آیت ۱۰۷، سورة الزخرف آیت ۳۲، سورة النساء ایت ,۸۶

۲– (ابن منظور م ب). ۱۴۱۴ هـ. (لسان العرب ،ج ۳ ،ص ۱۴۸ دارالصادر.

۳– الجامع الصحیح، ج ۸، ص ,۱۰۲

۴– سنن الترمذي، ج ۴، ص,۱۳۸

۵– الکوکب الوهاج شرح صحیح مسلم ج ۲۶، ص,۳۴۳

۶– فتح المنعم شرح صحیح مسلم، ج۸، ص ۵۴۶ دارالشروق.

۷– صحیح مسلم، ج ۱، ص ۵۳، بروت دار الاحیاء.

پای

د یهودانو دسیسې

لیکوال: محمد یحیی خان

ژباړه: سمیع الله "درانی"
اوله برخه

په یهودي ذهن د پوهېدلو له پاره موږ ته د تاریخ هغه واقعې د سر څخه مطالعه کول په کار دي، کوم چي د لومړۍ پېړۍ څخه ونیسې، بیا تر اوسه تکرار یږي.

په دې واقعو کي د یهودیانو له عیسائیت سره د دښمنۍ نمونه هم تر سترګو کیږي او له مسلمانانو سره د دوی د دښمنۍ اسباب هم په ذهن کي راځي او په نوي تاریخ کي د اروپا په مختلفو هیوادونو کي له پاڅونونو سره د دوی منفي او مثبت رول لوبولو اړخ هم معلومیږي.

د اسرائیل توري لفظي معنی ده "له خدای سره غېږه نیول."

دا معنی د یهودانو د مقدسو کتابونو په نوې ژباړه: "The Holy Sepulchre" کي ښوول سوې ده، کوم چي (جیوش پبلي کیشنز سوسائټی آف امریکه) په ۱۹۵۴ مېلادي کال کي خپور کړ.

د دې یادونه د پیدائش په کتاب (Genesis) په ۳۲ م باب کي د ۲۵ م آیت څخه ونیسه، بیا تر ۲۹ م آیت پوري راغلی دئ.

د عیسویانو په مترجم بایبل کي هم دا ذکر راغلی دئ.

د یهودي ژباړي په حاشیه کي اسرائیل په دې معنی ژباړل سوی دئ (He who striveth with God) یعني له خدای سره زور معلومول.

په (انسائیډکلو پیډیا آف ببلیکل لټریچر) کي عیسوي علماوو د اسرائیل معنی (Wrestler with God) یعني له خدای سره په غېږ نیولو والا کړې ده، بل ځای بیا د بایبل په هوسیع کتاب کي په ۱۲ م باب په ۴ نمبر آیت کي د یعقوب علیه السلام په صفت کي لیکلي دي، چي هغه د ځوانۍ په وخت کي له خدای سره غېږه ونیوله.

بیا يې له ملائکو سره غېږه ونیوله، بیا هم غالب سو.

په یهودي روایتونو کي راغلي دي، چي زموږ مؤرث اعلی یعقوب یوه شپه تر سهاره د الله (ج) سره غېږه وایستله، خو بیا هم الله (ج) یعقوب نه کړی غوځار، ده غوځار نه کړې، کله چي سهار سو الله تعالی (ج) ده ته وویل: ته ما وپېژنه! هغه جواب ورکړ، زه تا تر هغو نه پېژنم، ترڅو تا برکت (Blessings) نه وي راکړی، الله تعالی (ج) ځني وپوښتل: ستا نوم څه دئ؟

ده جواب ورکړ: "یعقوب".

الله تعالی (ج) ورته وفرمایل: په راتلونکي کي به ستا نوم یعقوب نه وي، بلکي اسرائیل سو، ځکه تا له خدای او بندګانو سره زور معلوم کړ او پر هغه غالب سوې (آخر هغه څنګه خدای و، چي پر خپل مد مقابل نوم باندي بې خبره وو او بیا غېږ نیونه او جنګ کي د خپل حریف څخه شکست هم وخوړی؟...مؤلف)

عام خلک د بني اسرائیلو تاریخ د حضرت موسی علیه السلام څخه شروع کوي، مګر د قرآن المجید د سورت المائده په شلم نمبر آیت کي فرمایلي دي:

د بني اسرائیلو اصلي زمانه د حضرت موسی علیه السلام د بعثت څخه مخکي تېره سوې ده، خپله حضرت موسی علیه السلام د هغه شانداره تېره سوې زمانه د خپل قوم مخکي وړاندي کوي.

د یهودیت ابتدا او د هغه وجه تسمیه

اصلي دین حضرت موسی علیه السلام او د هغه څخه مخکي پیغمبرانو چي راوړی دئ، هغه د اسلام دئ، له هغو انبیاوو څخه یو هم یهودي نه وو، تر دې وروسته یهودیت پیدا سو، د دغه مذهب نوم ډېر وخت وروسته پیدا سو، دا د هغه خاندان ته منسوب دئ، چي د حضرت یعقوب علیه السلام څلورم زوی "یهودا" د نسل څخه دئ.

د حضرت سلیمان علیه السلام د وفات څخه وروسته، سلطنت پر دوې برخي سو، نو د دغي برخي د ریاست مالک هغه جوړ سو، چي د "یهودیه" په نامه مشهوره سوا و د بني اسرائیلو دوهمي قبیلې جلا ریاست د "سامریه" په نامه جوړ کړ، بیا اسریا یوازي خپل "سامریه" تباه او برباد کړل، بلکي هغه اسرائیلي قبیلې يې هم سره ګډې – وډې کړې، چي دغه ریاست يې جوړ کړی و، تر دغه وروسته "یهودا" او د هغه څخه بنیامین نسل پاته سو، چي په هغه سره د "یهودا" د غلبې په وجه سره د یهودي لفظ مشهور سو. په دغه نسل کي داخل ربیون او اخبار خپل، خپل خیالات په دې نسل کي د یهودو علماوو او د دوی مشرانو د خپل طبیعت او عادت موافق عقیده، رواجونه او د مذهبي اصولو یوه طریقه جوړه کړه، بیا يې دې طریقې ته د یهودیت (Judaism) نوم ورکړ. دې طریقې د عیسی علیه السلام د پیدایښت څخه څلور سوه کاله مخکي تر پنځمې مېلادي پېړۍ پوري عملي شکل اختیار کړ. په دې طریقه کي د الله (ج) د رسولانو د آسماني هدایت هم لږ نمونه تر سترګو کېدله، خو هغه ګډه – وډه وه، ځکه الله (ج) دوی ته په قرآن المجید کي په (ٱلَّذِينَ هَادُوا۟) سره خطاب کړی دئ. یعني هغه خلک چي یهودیان جوړ سوي وو.

په یهودیت کي صرف بني اسرائیل نه ول، بلکي غیر اسرائیل هم ول، چي یهودیت يې قبول کړی و. په قرآن المجید کي چي چیري بني اسرائیل مخاطبین وي، هلته د بني اسرائیل لفظ راغلی وي او چیري چي د یهودو د مذهب ذکر وي، هلته بیا د (ٱلَّذِين هادو) کلمه راغلې وي.

بني اسرائیل په مصر هیواد کي سوونه کاله د فرعونیانو د ظلم، بربریت او غلط چلند ښکار ول، بیا د الله تعالی (ج) رحم پر دوی راغی، حضرت موسی علیه السلام يې مبعوث کړ، دوی ته يې د ذلت او غلامۍ څخه نجات ورکړ، بیا پر موسی علیه السلام باندي یو کتاب نازل سو، چي د هغه په وجه دغه ورک او کمزوری قوم یو نامتو او مشهور قوم وګرځېدی.

نور بیا...

په اسلام کې د مال او مالکیت حکم

پوهیالی اصلاح الدین "سالارزی"

دوهمه او وروستۍ برخه

د سورت حشر په دې اووم نمبر آیت شریف کې ډېر ښه څرګند سوی دئ:
ژباړه: هغه مال چې بې له جنګه د فې او خراج په صورت د رسول الله لاس ته ورځي، هغه د الله تعالی د رسول الله د ذالقربی، یتیمانو، مسکینانو او د لارویانو پردیسانو حق دئ، چې پر دوی به وېشل کېږي او دا د دوی له پاره چې د دولت د څو تنو د غنیانو په لاس کې محبوس او محصور نه سي، په دې آیت شریف کې د مال د توضیح عیان دا ښوول سوی، چې سرمایه تراکم و نه ګنځ او د اغنیاوو طبقه ډېره پیاوړې نه سي، یعني اسلام ډېر د مخه د طبقاتي تضاد د مخنیوي فکر کړی او نه یې غوښتل چې په اسلامي امت کې ډېر کښته او لوړ منځته رانه سي، غناء او بډایي که څه هم په ظاهري نظر په اسلام کې صریحًا منع نه ده او هر چا ته دا حق ورکړل سوی، چې په جایزه طریقه د ستو خاوند سي او هغه تکلیفونه پر ذمه واخلي، چې اسلام د شتمنو پر ذمه ایښی دئ؛ لکه: د زکات، خیرات او صدقو ورکړه او د قرض حسن له لاري له محتاجو سره مرسته او نور، مګر که څوک د ژور فکر څخه کار واخلي او اصلي منظور ته ښه ځیر سي، هغه پوهېږي چې شیشګی (شکوڼ) حلال دئ، شکل یې د مردار دئ، د مال پیدا کولو او ډېرولو هغه طریقې چې اسلام یې منع کړی دئ، لکه: سود خوري، احتکار، بډې (رشوت) اخیستل، غبن، په معامله کې درواغ ویل، غدر کول، تقلید او یا داسې نور.

دا ټول د قاروني بډایې په مخکې بندیزونه دي، چې په تقسیم او جدي ډول د قارونیت مخه نیسي، له بلې خوا هغه تشویق او ترغیب چې د خیر او احسان په اړه په نبوي حدیثونو او قرآني آیتونو کې وینو. مسلمانانو ته دا اجازه نه ورکوي، چې د فقیرانو او د حاجت د خاوندانو مقابله کې د بخل او امساک څخه کار واخلي او په خیریه چارو کې سترګې پټې کړي، سربېره پر دې اسلام مسلمانانو او اولوالامر ته دا حق ورکړی، چې د خوارانو او فقیرانو د مړولو او ژوندښه کولو له پاره د ضرورت په اندازه د بډایانو مالونه بې وزلو او غریبانو ته ورکړي او موازنه قائمه کړي. حضرت عمر (رض) چې د خپل خلافت په وروستیو وختونو کې اجتماعي وضعې څخه خبر سو، چې ځینو کسانو ډېر مالونه جمع کړي او نور په فقر او غربت کې ژوند کوي، نو اراده یې وکړه چې د تعادل او مالي تسویې له پاره له اغنیاوو سره فقیران د هغوی په مالونو کې شریک او سهیم کړي، ځکه یې وویل. مسلمانان به له بیت المال څخه مړوواو چې په بیت المال کې څه پاتې نه سي، د بډایانو په هر کور کې به د هغومره محتاجان ننباسواو دا کار به تر هغه وخته کوو، چې ټول مسلمانان په ګېډه ماړه سي.

پایله: اسلام د بشري او حیاتي ضرورتونو او حاجتونو سترګې پټې نه کړي او مال ته یې د ده اړتیا په نظر کې ونیوله، مګر د مال په لرلو او راغونډولو کې افراط بدګڼل او حدود یې ورته وټاکل، اسلام داسې دین نه دئ، چې د انساني عریضو په مخکې ضد سي او ببخي یې مخه بنده کړي، مګر نافرماني او سرپېچی ته یې هم نه پرېږدي، ښه مجری ورته پیدا کوي، هغه حیواني جنبه چې د انسان په خټه کې سته، اسلام یې نه محوه کوي، بلکې د تهذیب کوښښ یې کوي، چې د مال او مالکیت په مسئله کې هم نه افراط خوښوي او نه تفریط. د قرآني احکامو له مخې د مالونو اصلي مالک الله (ج) دئ او خدای (ج) دغه مالونه انسانانو ته په مجموعي ډول ورکړی دئ، چې افراط په کښې د جماعت په وکالت د جایز تصرف حق لري او په مطلق ډول په کښې تصرف نه سي کولای، یعنې سود نه سي خوړلای، قمار نه سي پر کولای، پر عیاشۍ یې نه سي لګولای. قرآنکریم مال لرونکی د مستخلفینو په حیث مالکان ګڼلي، نه د اصیلانو په حیث یعني اصلي مالکان یې نه دي بللي.

سرچینې: ۱–قرآنکریم.

۲–الفت، اسلام او د هغه نقش، ۱۳۹۵ ل کال.
۳–مجلة الاحکام د فقهي مسئلو د قواعدو مجموعة، لومړی ټوک، ۱۳۸۴ل کال.
۴–فضل هادي، فضلي، د ۱۳۹۲ ل کال، د عیني حقوقو لکچر نوټ:
۵– www.taleemulislam.net5.
۶–.WWW.LARAWBAR.NET

یو شعر څو خبرې

حبیب الله "قلم مل"

څلورمه برخه

خیر محمد هڅاند مې د څو کلونو پخواني یار، د مشاعرو او بهیرو ملګری دئ، کله – کله د لوی کندهار ادبي بهیر ته هم سر راښکاره کړي. دا یو وار سر ښکاره کېدل یې د څو وخت د شعر تنده د ملګرو په ماته سي، داسې غزل لیکي چې تر ډېره وخته به د ادب په غېږ کې ژوندی پاته وي.

د شخصیت په اړه به یې درته ووایم چې په دا پنځلس کاله مې داسې خبره نه ده ځنې اورېدلې، چې زما د آزار سبب دې وګرځي، د نرم مزاج خاوند او د پستو او علمي خبرو کوونکی دئ.

راځئ! تر لنډې پېژندنې وروسته یې لاندې غزل وګورو.

د شاعر لنډه پېژندنه:

خیر محمد هڅاند، د خان محمد زوی، د جان محمد لمسی دئ، د اوسېدلو اصلي ځای یې کندهار ښار، شپږمه ناحیه سره جامع ده او د اوسېدلو اوسنی ځای یې کندهار ښار میرویس مینه ده.

۴۴ کاله عمر لري، مروجې دیني زده کړې او عصري یې تر ۶ صنفه کړې او نورې زده کړې د مشکلاتو په خاطر ځنې پاته سوې دي.

فعلاً سوداګري کوي، پنځه اولادونه لري، په ۱۳۷۹ ل کال کې یې شاعري پیل کړې ده، یو چاپ او یو ناچاپ اثر لري، چاپ اثر (په لاسونو کې سکروټې) او ناچاپ اثر (غر د شاتو).

غزل

دوی دې تیاره ګڼي زه ستا د مخ رڼا ته ګورم
وکړه باور یاره چې هر وخت زه و تا ته ګورم

هڅاند د خپل یار په اړه دوني خوشبین دئ، چې د هیچا خبرو ته غوږ نه نیسي او کومه ورځ چې یې یار ځان ته معلوم کړی، په هغه سترګه اوس هم ور ته ګوري، هغه د پښتو متل دئ چې وایي: یوه ورځ یې وتله چې من سي، هره ورځ یې مه تله چې کم سي.

هغه هم د بل چا په خبرو پسې نه ځي او یار ته به هغه سترګه ګوري چې په لومړۍ ورځ یې تللی دئ او یار یې د هغې رڼا سره تشبیه کړی، چې هر وخت یې خلک موجودیت ته اړ وي او یار ته ډاډ ورکوي چې زه ستا په اړه ډېر ښه نظر لرم او دا د پاک زړي سړي خواص دي چې د هر چا په هکله نېک نظر لري.

ضد مې خوښ نه دئ جوړوم پر داسې ضد کلیزه
شیطانه ستا پر ضد چې زه و بسم الله ته ګورم

هڅاند ضدیت غندي، خو د شیطان پر ضدیت بیا همېشه د بسم الله په ویلو سره خپل ضدیت پالي، د ده دا کار موږ ته دا پیغام را کوي چې هر کار بې بسم الله شروع سي، انجام به یې ښه نه وي او بل دا پیغام لري چې د بد کس په وړاندې ضدیت کول ثواب لري، ځکه دا د باطل په وړاندې یو ډول مبارزه ده او په ټولنه کې داسې اصطلاح ده چې د متکبر کس په وړاندې تکبر کول، په خپل ځان کې ښه کار او شاید الله (ج) ثواب پر ور کړي، ځکه تکبر خاصه د الله (ج) دئ.

دلته مې دوې سترګې هم نهویني په ګېډه خوښي
په یوې وینم جنازه په بلې وراته ګورم

د افغاني ټولني یو انځور یې وړاندې کړی دئ. رښتیا هم دا داسې ملک دئ، چې همېشه دلته د غم ټغر هوار وي، په څو کلونو کې یو څه وخت امن، سوله، خوشحالي وي، بیا د انقلاب غبرګ ته ولوېږي، دا سیمه د جغرافیایي موقعیت په خاطر یې، هر وخت پردي د نیولو خیال لري، نو ځکه شاعر وایي، چې همېشه مې سترګې لا پر یو قرار نه دي په یوه سترګه غم په بله ښادۍ ته ګورم او بل مطلب دا هم حاصل کېدلای سي چې دنیا یوازې د خوښۍ ځای نه دئ، بلکې د بلاوو او مصیبتو کور هم دئ.

هغه لنډۍ ده چې وایي:

دنیا د غم په ورځ پیدا ده
زه لېونی د خوشحالۍ تمه لرمه

تا ته په ورځ کتل یوواړ زما منفي اړخ دئ
حق خومې دادی چې تر ځان ډېر ډېر ستا خوا ته ګورم

"معنی شعر في بطن شاعر"

ژباړه: د شعر معنی او مفهوم خپله له شاعر سره دي، خو د شعر څخه د هر کس خپل برداش دئ.

وایي چې مولانا بلخي ته چا ده د شعر سل معناوې وکړې، خو ده ور ته وویل چې اوس دې هم هغه زما د زړه معنی نه ده راایستلې، نو د پورته بیت څخه شاید د شاعر په زړه کې بله معنی وي، خو زه یې داسې تعبیروم چې شاعر د خپل محبوب په وړاندې خپل مسئولیت نه دئ ادا کړی او هغه ته وایي، چې ما باید تر ځان لا زیاته توجه تا ته کړې وای. د ده مراد به له ده سره پرېږدو، موږ به یو تعبیر دا ځنې واخلو چې دی خپل محبوب خپل وطن بولي، هغه ته وایي چې ما ستا په وړاندې خپل مسئولیت نه دئ ادا کړی، ځکه هر وخت خوار او د پردیو در په کښې سترګه وي، که رښتیا موږ د خپل محبوب وطن سره مینه وکړو او هر وخت توجه ور ته وکړو، نو په آبادۍ سره به یې موږ هم آباد و اوسو.

شعر هر وخت څو اړخونه لري، کله یې مادي اړخ قوي وي، کله یې معنوي اړخ، کله – کله یې نور اړخونه قوي وي، چې پر ټولو اړخو یې په یوه لنډه لیکنه کې کار نه کېږي، نو ځکه پر یوه اړخ چې یې خبره وسي، زما په فکر ښه به وي.

"هڅاند"هیڅ نه دئ مطمئن، خو خلک وایي ده ته
چې غزل را کړه زه یې نن ګرانه ښکلا ته ګورم

هڅاند هم تواضع کوي چې زما شعر ښه نه دئ او هم دی د خپل شعر د ښه والي د اړخونو څېړلو ته رابولي او په غیر مستقیم شکل دی د خپل شعر و ښېګڼو ته متوجه کوي.

شعر هغه هنر دئ چې هر څه پر وویل سي او پر هر څه یې تعریف وسي، پر لړ ده، خو شعر لکه څو هنره او څو اړخیزه انسان په هر ځای او هر وخت کې په ښه درځي، که یې په غم کې ووایې غم دې په سپک کېږي، که یې په خوشحالۍ کې ووایې، خوشحالي دې په زیاتېږي، که یې د ښو په صفت کې ووایې، هم ثواب دئ هم خرما او که یې د بدو په رد کې ووایې اصلاح راځي او که یې د ټولنیز ژوند په اړه ووایې د خلکو خپلو ځانګړتیاوو او نیمګړتیاوو ته فکر کېږي، د پوهانو په وینا چې شعر دوه رقمه دئ، شعر د ادب له پاره او شعر د ژوند له پاره، زه فکر کوم چې په اوس وخت کې شعر د ژوند له پاره سخت ضرور دئ او د ادب له پاره خو معنویات قوي کوي. نور بیا...

شعري او آدب

د طلوع ځلانده ډیوه

غزل

احسان الله "معصوم"

تاته دي ښه په احترام سي ښایست
ستا دي نوکر ستا دي غلام سي ښایست

❀

ګل مخې یاره! موږ دي قدر کوو
دا مصر نه دئ چې لیلام سي ښایست

❀

ستا د قدم خاورو ته نه رسېږي
که هر سړی ښکلی سي عام سي ښایست

❀

هیلې مو مړې زړونه مو مړه ولې سي؟
ولې لا مل د قتل عام سي ښایست؟

❀

چې مخ دي واړوئ ځواني تېره سوه
چې مخ را اړه وې تمام سي ښایست

❀

"معصوم" مې قبر ته هم ګل راوړی
هغه دا نه غواړي چې خام سي ښایست

غزل

اجمل "ښکلی"

ګوندې ها ښکلي پر دې شاړه لاره بیا راسي
د زړه کړکۍ مې خلاصه پرېښې چې هوا راسي

❀

هغه دعوه له میکدې سره د مینې وکړي
ما ته په ماته پیمانه باندې ژړا راسي

❀

موږ شکایت کړو له تیارو؛ خو ډیوه نه بلوو
یو منتظر چې له کوم لوري به رڼا راسي

❀

د خپل ارمان د حسین غم یوازې وژاړمه
زه څه خبر وم، ستا په تګ به کربلا راسي

❀

چې کوم زلمی روان پر لوري د سراب ووینم
په خپلو سترو مزلونو مې خندا راسي

❀

چې هر پلو وګوري جوړه کړي د نیا د ښایست
هغه غاټول پسې خو باید چې صحرا راسي

❀

ذهن مې ډک سي له سرور چې شهلا ووینمه
د زړه مارغه مې وزر وکړي چې سوما راسي

❀

"اجمله!" مړ به دې کړي څوک په تحریف سوي تعبیر
دروغو به کلي وي وران کړي چې رښتیا راسي

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت لـه ټاکلي لیکنیـز معیـار سره سم، د لیکنـو پـه اصلاح کـې د لاسوهني حق لـري.

ګرانو لوستونکو! ستاسو څخه په ډېر احترام هیلـه کېږي، چـې دا سپېڅلي پاڼي بـې ځایـه و نـه غورځـوئ!

مسـئول مـدیر: بریـالـی "فیضي"

د تصـحیح مسئـول: بسم الله "غـرنی"

کمـپوز او ډیـزاین: نصیراحمد "صابر"

د مـدیریت شمېره: ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳

د توزیع مدیریت شمېره: ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶

پته: علامه حبیبي واټ– اطلاعات او فرهنګ ریاست

د برېښنالیک پته: Afghan.tolo@yahoo.com

Founded in 1921 | Issue: 31 | Established in 1300 Hijri

افغان اعلانونه

په اجاره یې ورکوي

د کندهار ښاروالي خپل ملکیت، د شرقي لین په اډه کې یو باب څلورم نمبر غټ هوټل او حمام د شرطپاڼي مطابق، د یوه کال له پاره د آزادي داوطلبۍ له لاري په اجاره ورکوي. ټول هغه اشخاص چې غواړي په داوطلبي کې ګډون وکړي، خپل غوښتنلیکونه دې د ۱۴۰۲ ل کال د زمري میاشتي د یوولسمي نېټې څخه بیا د همدې میاشتي تر اوولسمي نېټې پورې د کندهار ښاروالۍ د تهیه او تدارکاتو آمریت ته وسپاري، شرطپاڼه کـتلای سي، د اجارې د سرجمع څخه لس سلنه تضمین نغداً اخیستل کېږي او داوطلبۍ د روان کال د اسد میاشتي پر اتلسمه نېټه د چهارشنبې په ورځ د کندهار ښاروالۍ د تهیه او تدارکاتو په آمریت کې د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کې تر سره کېږي.

د لازیاتو معلوماتو له پاره دې پر ذکر سوو شمېرو اړیکه ونیسي:

۰۷۰۷۱۵۹۷۱۸ – ۰۷۰۰۳۵۴۲۵۶

په کرایه یې ورکوي

د ګمرک ریاست اړوند:

یو باب غرفه په کرایه د قرارداد په ډول ورکول کېږي. هر هغه څوک چې یاده غرفه په کرایه غواړي، خپل غوښتنلیکونه دې د ۱۴۰۲ ل کال د زمري میاشتي د یوولسمي نېټې څخه بیا د یادي میاشتي تر یو دېرشمي نېټې (د یو ویشتو ورځو) پورې دې خپل غوښتنلیکونه د مستوفیت ریاست د املاکو لوی مدیریت ته وسپاري او یا ده داوطلبي د سنبلې میاشتي پر اوله نېټه، د چهار شنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د تعین سوي هیئت په حضور کې د املاکو په عمومي مدیریت کې تر سره کېږي، شرطپاڼه کـتلای سي او تضمین نغداً اخیستل کېږي.

اعتبار نه لري

سمیع طوفان ساختماني چې د جواز شمېره (D-04-1570) ده، رئیس یې سمیع الله د حاجي هدایت الله زوی دئ، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

دورکي اعلان

یوه قطعه برېښنایي تذکره چې د لېمه "سحر"، د خلیل احمد مبارز د لور او د حاجي شېر محمد د لمسۍ نامه ده، ورکه سوې ده. هر چا که پیداکړې وي، د مهربانۍ له مخي دې د آزادي مطبعې سره د قاهر جان شېریخ والا دوکان ته ور وړي.

د اعتبار وړ نه دئ

شرکت ښایسته پښتون لمیټیډ چې د جواز شمېره (2131- 27) ده، رئیس یې محب الله د حاجي نور محمد زوی او مرستیال یې حکمت الله د سردار محمد زوی دئ، ورک سوی، د اعلان تر نشر وروسته اعتبار نه لري.

د افغانستان او پاکستان ملي لوبډلي روانه میاشت درې یوه ورځنۍ سیالۍ کوي

د افغانستان او پاکستان کرکټ بورډونو روانه میاشت د دغو هیوادونو د کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ، د درو نړۍوالو یوه ورځنیو لوبو د لړۍ مهالوېش اعلان کړ.

دغه لوبې د اګست میاشتي پر ۲۲مه، ۲۴مه او ۲۶مه د افغانستان په کوربه توب سریلانکا کې کېږي.

ټاکلې سوې ده، چې د پیل دوې لوبې د سریلانکا په سهېلي همبانتوټا او وروستۍ د پلازمېنې په کولمبو لوبغالي کې وسي.

د افغانستان او پاکستان کرکټ ملي لوبډلو ترمنځ، دا لوبلړۍ داسي مهال پلان سوې، چې په ورپسې راروانو میاشتو کې د آسیا جام او نړۍوال جام مهمې سیالۍ هم را رواني دي.

د افغانستان کرکټ بورډ چارواکي هیله من دي چې دا لوبلړۍ به راتلونکو سیالیو ته د افغان لوبډلي په چمتووالي کې مرسته وکړي.

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رئیس میرویس اشرف ویلي: "د افغان ملي لوبډلي لوبغاړي دغو سیالیو ته په بشپړ ډول چمتو دي او دا چې په دې وروستیو کې یې بنګله دېش ته د یوې ورځنیو لوبو لوبلړۍ کې ماته ورکړه، نو د پاکستان په وړاندې سیالیو کې به هم په لوړ مورال سره ولوبېږي."

د یادوني ده چې د آسیا جام سیالۍ د اګست په وروستیو کې پیلېږي.

د پاکستان کرکټ بورډ هم ویلي، چې له افغانستان سره دا لوبې به د بابر اعظم په مشرۍ د دوی ملي لوبډلي سره دغه جام ته په چمتووالي کې مرسته وکړي.

پي‌سي‌بي زیاته کړې ده، چې د دوی لوبډله به د اګست میاشتي پر ۱۷مه سریلانکا ته ولاړه سي او له افغانستان سره تر سیالیو مخکې به د همدې میاشتي پر نولسم، شلم او یو ویشتمه خپل تمرینات وکړي.

افغانستان او پاکستان تر اوسه دغو سیالیو ته لوبډلي نه دي اعلان کړي.

د قطر د دولت وزیري: له نېکه مرغه د قطر الخیریة...

(۱) مخ پاته

زده کړو، کرهنې، بدني روزنې او داسي نورو بېلابېلو برخو کې مرستې ته ژمن دئ.

هغې همدارنګه وویل، هڅه کوي چې له افغان حکومت سره په همږغۍ ژر تر ژره میکانیزم جوړ او یادې پروژې پیل کړي.

د یادوني وړ ده، چې د بهرنیو چارو وزارت سرپرست او مل پلاوي قطر ته د سفر په ترڅ کې تر دې دمه د بېلابېلو هیوادونو له استازو سره لیده– کاته تر سره کړې دي.

په کابل نړۍوال هوایي ډګر کې دوې پروژې پر انیستل سوې او د...

(۱) مخ پاته

نامه جومات د بنسټ ډبره کېښېښوول سوه.

دغه جومات په ۱۰۴ متره مربع ساحه کې د «ارو پټرولیم» شرکت په شخصي لګښت د پنځو میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي چې په یو وخت کې د ۹۰ تنو لمونځ کوونکو ظرفیت لري.

د کابل نړۍوال هوایي ډګر رئیس له هغو شرکتونو څخه مننه وکړه چې د دغو پروژو په تطبیق کې یې ونډه اخیستې ده.

د هغه د معلوماتو له مخې، اوسمهال په کابل نړۍوال هوایي ډګر کې هره میاشت شاوخوا ۱۰۰ کسان تګ او راتګ کوي چې له دې جملې څخه څه د پاسه ۶۰ زره یې بهرنیان دي.

دغه راز له دې هوایي ډګر څخه هره ورځ تر ۳۰ پورې پروازونه تر سره کېږي او یوازې په تېره میاشت کې له ۷۵ هیوادونو څخه ۱۰ زره ۷۰۰ بهرنیان هیواد ته راغلي دي.

په کندهار کې د ۱۴۰۲ ل کال کانکور ازموینه...

(۱) مخ پاته

هیواد او ټولنې د پرمختګ او بقا له پاره وکړي، د افغانستان اسلامي امارت ځوانان د دنیوي او اخروي ضرورتونو له پاره روزي.

د کندهار د پوهنې رئیس بیا د آزموینې ګډونوالو ته د اطمینان تر څنګ وویل، خپلو مسئولیتونو ته دې متوجې سي، تاسې د نن ورځ داوطلبان، د سبا ورځې رهبران یاست.

د یادولو وړ ده، چې په ۱۴۰۲ ل کال کانکور آزموینه کې له کندهاره ۱۹۲۵ تنو نوم لیکنه کړې، چې ۱۹ تنه یې علما او ۴۲ تنه یې د ښوار لسم فارغین ول.

د سولري څراغونو په نصبولو سره د ښار ښکلا څو چنده...

(۱) مخ پاته

څراغونه نصب کړي او په نژدې راتلونکي کې به د ښار په نورو سیمو کې هم څراغونه نصب کړي.

د عاصم په خبره، په هغو سیمو کې چې سولري څراغونه خراب سوي، ډېر ژر به یې ورغوي.

په ورته وخت کې ښاري اوسېدونکي هم د وروستیو پرمختیایي کارونو او په خاص ډول د سولري څراغونو په نصبېدو سره خوښي ښیي.

د کندهار ښار دوه تنه اوسېدونکي نصیب الله او جان آغا باختر آژانس ته ویلي، چې د څراغونو په نصبېدو سره په تګ– راتګ کې د اسانتیاوو تر څنګ، د ښار ښکلا ډېره سوې او د ښاریانو څخه وغوښتل، چې د خپل ښار په ښکلا، آبادۍ او پاکوالي کې د ښاروالۍ او نورو اړوندو ادارو سره همکاري وکړي.

د کندهار مجلې د ۱۴۰۲ ل کال دوهمه ګڼه...

(۱) مخ پاته

شاعرانو او څېړونکو په تول، پوره مضامین او لیکني خپرې سوي دي.

د مجلې په دې ګڼه کې د نورو موضوعاتو تر څنګ، "کوکنار چا راوړل، پر چا یې تاوان کړل؟، پر اروپا د اسلام احسان، د لنډو کیسو لوستل او شنل، هنر او ادب، د خضر په تلاښ، شعرونه او نور ګټور موضوعات خپاره سوي دي."

د کندهار مجلې د تر لاسه کولو او د خپلو لیکنو، شعرونو او مضامینو د خپرولو له پاره د اطلاعات او فرهنګ ریاست اړوند، د مجلې مدیریت ته مراجعه وکړئ.

د انساني قاچاق او نشه یي توکو د استعمال پر مخنیوي سېمینار پای

(۱) مخ پاته

د کندهار د اطلاعات او فرهنګ ریاست اړوند، د ځوانانو چارو آمر حافظ حمدالله سعید بیا د سېمینار له ګډون والو وغوښتل، چې دلته تر لاسه کېدونکي معلومات له نورو ځوانانو سره هم شریک کړي.

اطلاعات او فرهنګ ریاست ته ۱۰۰ تخفیفي سکالر شیفونه...

(۱) مخ پاته

سیاسي علومو پوهنځي کې ۷۰ سلنه تخفیف ورکوي.

د دې تر څنګ به د لمر لوړو زده کړو مؤسسې محصلین په اطلاعات او فرهنګ ریاست کې د انټرشیپ له لاري د کار کولو تر څنګ، د یاد ریاست د امکاناتو او اسانتیاوو څخه استفاده کوي.

۱۲ کیلو متره سړک او دوه چک ډیمونه...

(۱) مخ پاته

۹۹۵ افغانیو په لګښت، لېولینګ او جغل کاري سو.

همدارنګه د دره نور چک ډیم چې ۲۷ متره اوږدوالی او ۳,۵ متره ارتفاع لري او د اووه زره متره مکعبه اوبو ذخیره کولو وړتیا لري، د دوو میلیونو، ۹۰۶ زره او ۲۱۲ افغانیو په لګښت جوړ سو، تر څنګ یې د غنیګي چیک ډیم چې ۸۸ متره اوږدوالی او ۳,۵ متره ارتفاع لري او د ۱۲ زره متره مکعبه اوبو ذخیره کولو وړتیا لري، د اتو میلیونو ۸۴۷ زره او ۶۲۳ افغانیو په لګښت جوړ او د پنجشنبې په ورځ ګټې اخیستني ته وسپارل سول.

هیواد ته د افغان حاجیانو د راتګ...

(۱) مخ پاته

سږ کال په ۸۹ بېلابېلو پروازونو کې افغان حاجیان د هیواد له څلورو لویو زونونو څخه سعودي عربستان ته انتقال کړي وو، چې د حج د مناسکو لـه ادا کولـو څخـه وروستـه یـې وروستـۍ پـرواز لـه مـدینې– منـورې هـوایي ډګـر څخـه هیـواد تـه سـتنېږي.

د یادوني وړ ده، چې په تېرو لسو کلونو کې په لومړي وار ۳۰ زره افغان حاجیان سعودي عربستان ته تللي وو.